زرلښته د خپلی کورنۍ څخه د پسرلي چټیاني
تپرولو لپاره د انا کره د لورا لائي کلي ته روانه
وه- د هغوئ ګاډی پر سړک منډه وهله- د سړک
دواړه اړخ ته شین ګښتي وه- د رنګ په رنګ
ګلانوخوشبوی په فضا کي خوره وه-

ټول د دغو نظاروڅخه په خوند اخستو اخستو
د لورالائي کلي ته و رسېدل- هلته خو هر څۀ
بدل وو- نه هغه شين ګنبتي وه او نه د ګلانو
خوشبوی- بس ځای پر ځای خاوري دوړي
الوتې- د انا کورنۍ د دوی په زړۀ پوری هر کلی
اوکړو- د مخ لاس مينځلو او خوراک څښاک
څخه وروسته ټول د ګپ شپ له پاره کښيناستل-

زرلښتي له نيکۀ څخه پوښتنه وکړه، بابا جانه!
ستاسو کلی خو ډېر وچ دی- دلته ونې بوټي
نه کېږي څۀ؟ نيکۀ ځواب ورکړ، ولی نه بچی!
د دې خبرې په هکله خو مې د کلي خلګ را
غوښتي دي چې پوهه يی کړو چې پر خپلو
کورونواو علاقه کي ونې بوټي و کري-

او د ونو بوټو د کرولو موسم دی- خو د بد
قسمتۍ نه تر اوسه زمونږ په کلي کي هیڅ چا
دی اړخ ته پام نۀ دی کړی- د ګڑز او سوکړې
له کبله د ساه او څرمن ناروغتیا را ګډې سوي
دي- ستاسو په خیال کي زمونږ په کلي کي د
ونو بوټو کرونده پکار ده که نه؟ ټولو په یوه
ږغ ووئیل، هو جي! دا خو ډېره ضروري ده-

بابا د خوشحالۍ نه ووئيل، راځئ چې د سبا څخه دا نېک کار پېل کړو- زمونږ د سيمې د زراعت د محکمې افسر د شاه خالد صېب په ذمه پر ټولو د تخم او بوزغلو وېشل دي- طاهر ما ما به د ټولو ډلې سازي کوي چې د کلي په ېبلا ېبلو ځايونو کې تخم او بوټي و کري-

د جان لالا وډلې ته د کلي د لوبو د مېدان
ګېر چاپېره څلورو اړخونو کې د سایو لپاره
د ونو کرلو ذمې ورکړل سوه- د دُر محمد
کاکا وډلې ته د کوشنیانو د لوبو په ځایونو
کې د چمن او د ګلانو د بوټې کرلو کار پر
سر ور وسپارل سو- د ګل مکۍ خور ډلې
ته د کورونو دننه او مخې ته د شینګښتیا
خورولو کار ورکړل سو-



د قابل خان اکا ډلې ته د جوماتونو، روغتون او
په ښونځیو کې د کروندې ذمه ورکړل سوه- په
پای کې بابا جان ووئیل، مورږ به څلور میاشتې
وروسته هم دلته دوباره غونډه کوو او ګورو به
چې مورږ په کلي کې بدلون را وستی دی که نه؟

بله ورځ د ټولو ډلو مشرانو د زراعت د دفتر څخه تخم او سَره یوړله- د شجر کاری په دی مهم کي ټولو وړو زړو په ډېر جوش و جذبه ګډون وکړ- ټول په خپلو سیمو کي د تخمونو او بوټو په کر کي بوخت سو- د ټولي سیمې د اوبۀ کولو ذمه واري د اب پاشی د محکمې ګل بدین صېب او د هغۀ د عملې وه-



شپونکيو به خپلې مېړې او اوزې د بوټو خوا
له نه پرېښودې- په يو څو ورځو کې د کلي
نخښۀ په بدلون سوه- ځای پر ځای کوشني
بوټي راوټوکېدل- کوم خلګ چې به د سحار
کار له تلل هغوئ به هر مازيګر د خپلې
حصې کار کولو لکه د ځنګلي بوټو ويستل
او داسې نور-

اخر څلور میاشتې وروسته د جولائي میاشت راغله- د زرلښتي کورنۍ بیا د لورالائي پروګرام جوړ کړ- دا وار چې څنګه د هغوئ ګاډه د کلي پر لور تاؤ سوه نو زرلښته حېرانه پاتې سوه- د کلي د لوبو مېدان تک شین سوي وُ- د هر کور مخې ته په نالو کي رنګ په رنګ ګلان او بوټي راشنه وو-

بله ورځ د کلي په مېدان کي ټول را ټول سو-
مخ کي چي کوم مېدان د خاورو دوړو ډک وُ
اوس تک شين وُ- بابا جان د ټولود محنت او
وخت ډېره مننه وکړه- ټولو کلي والو د هغۀ
شکريه ادا کړه چي د هغۀ په مشرۍ او لار
ښونه د لاسه هغوئ په کلي کي د شينګښتۍ
بدلون را وستو جوګه سو-

بګ بکس

د دوهم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجیکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بهرنیو الاقوامي ترقي د پاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي. د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ډډه کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي. په دې لړکښي پاکستان ریډنګ پراجیکټ د زړه کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ د پاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودني مواد تیار کړي دي.

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده. د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلي شوي دي. یو بګ بُک به په دوۀ هفتو کې لوستلې شي. استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي. د هر بګ بُک په وروستنۍ مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمي ورکړي شوي دي. استاذان دې په هفتهٔ کې دوه ورځې دا سرګرمي ضرور وکړي. د بګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته یوله قیصې واورولې شي. د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي. مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پیښ کول وغیره.

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي، د غږونو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو روانې، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړې شي. دا کتابونه به په خصوصي توګه د لاټبرریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان تري هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپي دا سلسله هم روانه وي.
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي.

پاکستان ریډنګ پراجیکټ کې لاندینې تعلیمي او د ښودني مواد شامل دي.

- ټي اَنډ جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بګ بُکس
- فلیش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چاپایي په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطي نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پوري کوشش شوے دے. بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجیکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ. د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ.

استاذانو د پاره لارښوونې

پاملرنه: استاذان دي هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصه اوروي او په لاندیني لارښوونو دي عمل کوي-

لومړۍ ورځ (خبري اتري، پېشن ګوئي او زاړه معلومات)

تر لوست مخکې:

» زده کونکو ته د قیصې سرپاڼه ورښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چې:
» تاسو ته په عکس کې څه څه ښکاري؟
» ستاسو په خیال دا قیصه به د څه په هکله وي؟

د لوست په مینځ کې:

» جمله "ستاسو په خیال کې زموږ په کلي کې د ونو بوټو کرونده پکار ده که نه؟" ووائ او د زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو په خیال د کلي خلک به بابا له څه ځواب ورکوي-
» د زرلښتي کلی څه رنګه بدل وۀ؟

تر لوست وروسته

» د زرلښتي د انا کلي کې څه رنګه بدلون راغی؟
» د کلي خلګو څه څه کارونه وکړل؟

دویمه ورځ (د ارکانو مشق)

تر لوست وروسته

کېدې سی چې ستاسو په ټولګي کې ځینې داسې لوستونکي هم وي چې مورنۍ ژبه یې پښتو نه وي، دا لاندیني سوالونه یواځې د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ-
» زده کونکو ته د قیصې سرپاڼه ورښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چې:
» تاسو به شین ګښتي او بدلون په خپله ژبه کې څنګه وائي؟
» په درېیم مخ جمله "بابا جانه: ستاسو کلی خو ډېر وچ دی- دلته وني بوټي نه کېږي څه؟" ووایئ او زده کونکیو ته ووایئ چې دا جمله په خپله ژبه کې ووائ-
اوس زۀ ستاسو په مخکې څو ټکي لولم تاسو د هغو له ږغونو سره لاسونه وپړکوئ-
ټکي: ګلان، بدلون، انتروشي، سوکړه، شینکیا ارمان، پرته

دریېمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

تر لوست وروسته

» په دویم مخ جمله "د انا کورنۍ د دوي په زړۀ پوري هر کلی وکړو" ولولئ او زده کونکو ته ووایاست چې د دی مطلب دی چې په ډېره خوشحالۍ هر کلی وکړۀ- هغوئ ته ووایئ چې "زړۀ پوری" په خپله جمله کې استعمال کړي-

څلورمه ورځ (خبري اتري: د ذاتي ژوند په هکله)

تر لوست وروسته

» زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چې:
» زرلښته ته د ګاډي نه څه څه په نظر راغلل؟
» ستاسو کلی کې کوم کوم بوټي کېږي ؟
» خلګو مخونه ولې پټ کړي وو؟
» د زرلښته کلی د اناد کلي نه څه رنګه بدل ؤ؟
» د ونو بوټو کرلو څه څه ګټې دي؟
» بوټي کرل ښۀ کار دی که نه؟ که هاؤ نو ولې؟ که نه نو ولې؟
» که زموږ پر مخکه وني بوټي نه وو نو دا هر څه به څه رنګه ښکاریدل؟
» تاسو به دی قیصې له بل څه نوم اږدئ؟

www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دي موادو خپرونه د امریکائي خلقو په مرسته د امریکي بین الاقوامي ترقي اداري په لاس ممکن سوي ده- دا مواد یو اپس اېډ- پاکستان ریډنګ پراجیکټ د صوبائي علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- د دي موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجیکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو اپس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-